# د بدلون سیاسي او کلتوري تفسیر

انجنیر شیر ساپی
۲۰۲۶/۰۹/۲۱

کله چې د یوې ټولنې په اقتصاد او کلتور کې ژور او نوي بحرانونه رامنځته شي، د زړو ګوندونو منځلاري او مصلحت خوښوونکي سیاستونه نور ولس ته ځواب نشي ورکولای.
ولس اوس په مستقیم ډول داسې ځواکونه غواړي چې په خپلو پرېکړو کې قاطع او بې‌باکه وي. په اروپا او آلمان کې د نن ورځې تحول دا ښیي چې ولس د "ایډیالوژیکو تونډلارو قطبونو" (سخت چپ او سخت ښي) په لور روان دئ او د زوړ نظام منځلاري اړخ د اضمحلال په لور ځي .
د آلمان پرون ورځې (د ۲۰۲۶ ز کال د سپتمبر ۲۰مې) د ایالتي ټاکنو پایلې په زړور ډول دا ثابته کړه چې د دودیزو او زړو ګوندونو کلاسیک سیاستونه نور د نوې زماني له غوښتنو او د ولس له مادي او معنوي دردونو سره سازګار نه دي .
په آلمان کې د برلین د ایالت د استازو په جرګه او د هېواد په شمال ختیځ کې د مکلنبورګ-فورپومرن په ایالت کې برخلیک ټاکونکې ټاکنې وشوې. د رایو د پایلو په تله کې، د هېواد د دودیز او حاکم منځلاري-ښي اړخي ګوند (CDU)د لومړي وزیر فریډریش میرڅ تر مشرۍ لاندې داسې سخته تاریخي ماتې وخوړه چې په مکلنبورګ کې د پنځه فیصده حد ته راکښته شوه او د سقوط په حال کې دهٔ.

ډیموکراسي د یو اګاهانه او شعوري ارزښت په توګه
"دا خلک د ډیموکراسی په چوکاټ کې خپله ازادي او حق غواړي، نه د خپل هېواد ورانول".
په یوه باسواده ټولنه کې د ډیموکراتیکو ټاکنو د رایو جګړه په حقیقت کې د سیاست او واک د کنټرول جګړه ده، نه د توپک او نظامي تخریب. کله چې د جرمني په انتخاباتو کې یو ګوند بایللو او بل برلاسی شي، سمدستي په ارامی او سوله ییز ډول د واک لېږد کېږي. ولس په اګاهانه ډول پوهېږي چې د دولت د پالیسیو بدلون د سړکونو او د هېواد د اقتصاد د خرابولو معنی نلري. <u>هغوی خپل وطن او مادي زیربناوې د خپل وجود برخه ګڼي.</u>

د باسواده او بې‌سواده ټولنې لوی او اساسي توپیر
په وروسته پاتې هېوادونو (لکه افغانستان) کې چې د بې‌سوادۍ تور تم حاکم دئ، خلک د "فرد، قبیلې، ګوند او یا قشري عقایدو" لپاره په ډېره اسانی سره د خپل هېواد بنسټونه، مکتبونه، پلونه او اقتصاد په خپلو لاسونو ورانوي، ځکه هغوی د خپل وطن د مادي او معنوي ارزښت په معنی او اهمیت نه پوهېږي. هغوی د ایډیالوژیو په چټل دام کې مړه کېږي، خو د ژوند د ودانولو راز ورته چا نه دئ ښودلی.
دغه وروستی تحلیل دا ثابتوي چې **معارف یوازې د لیک او لوست نوم نه دئ، بلکې معارف د ټولنې په روانپوهنه کې د یو "مسئول تبعه" د مسؤلیت او شعور د ودانولو نوم دئ.** کله چې بې‌سوادي صفر ته تقرب وکړي، نو ولس خپله د خپل هېواد د معنوي او مادي جوړښت د بقا ضامن ګرځي او هېڅوک یې د ورانی لپاره نشي کارولای.

د "چپ" او "راست" انتزاعي کېدل او د ژوند واقعیت
د نوې زماني په باسواده ټولنو کې "چپ او راست" نور یوازې انتزاعي او په کتابونو کې پاتې شوي مفاهیم دي. خلک د ایډیالوژیو په دام کې نه ښکېلېږي، بلکې د خپل عیني او ورځني ژوند ښه والی غواړي.
په جرمني کې که څوک د ښي اړخي (AfD) یا سوسیالیستي چپ (Die Linke) په لور ځي، هغوی د کوم پاچا یا ایډیالوژۍ لپاره ځان نه قرباني کوي؛ بلکې یو لوری د انفلاسیون، مهاجرت او مادي بحران څخه د وتلو داسې تګلاره غواړي چې د دوی عاید خوندي کړي، او بل لوری د غریبانو د کورونو او د هوسا ژوند د حق د اعادې هیله ژوندی ساتي. په دواړو حالتونو کې، هدف "انسان او د هغې مادي رفاه" ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ